# د افغانستان اسلامي جمهوریت
## د کابینې مصوبه
## (۹) ګڼه
## نیټه ۱۳۹۹/۳/۲۶

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۹ کال کابینې نهمه غونډه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د غبرګولې میاشتې په (۲۶) نېټه دوشنبې ورځ له غرمې مخکې د کابینې غړو او والیانو په ګډون د ویډیویي کنفرانس له لارې په ارګ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او له اجندا مخکې ځینې مهمې موضوع ګانې:**

- کابینې غونډې ته د ښې حکومتوالۍ په چارو کې د جمهوري ریاست ځانګړي استازي او د کانونو او پټرولیم، اطلاعاتو او فرهنګ او پوهنې وزارتونو نوماند وزیرانو او سرپرستانو ته ښه راغلاست ویل؛
- د هیواد نامتو عارف، شاعر او لیکوال حیدري وجودي د مړینې له کبله د مرحوم کورنۍ او افغانستان خلکو ته د ژورې خواشینۍ او غمرازۍ ښکاره کول؛
- کابل شیرشاه سوري جوماتت بانډې د ترهګري برید په کلکه غندنه او مولوي عزیز الله مفلح په شهادت ژوره اندیښنه او خواشیني څرګندول؛
- د جوماتونو او علمای کرامو، مهم مذهبي شخصیتونو او د سولې خبرو اترو ډلې امنیت نیولو په موخه د کورنیو چارو وزارت ته دنده سپارل؛
- د هیواد په امنیتي او دفاعي ځواکونو د وروستیو بریدونو غندنه او د هیواد امنیتي او دفاعي ځواکونو چې د هیواد ساتلو، ملي نوامیسو او د اساسي قانون د ارزښتونو لپاره یې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی، د شهادت په اړه غمرازۍ ښکاره کول؛
- د لوګر، غور، زابل او دایکندي ولایتونو والیانو د لیدنې په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛او د راتلونکي اوونۍ پیل څخه د نورو والیانو سره د ولایتونو اړونده ستونزو او ننګونو بحث په موخه د ویډیو کنفرانس له لارې د هرې ورځې پر غونډو ټینګار؛
- په ایران هیواد کې د افغان کډوالو څخه بار موټر سوځیدو پېښې تعقیب او رسیدنې په موخه د بهرنیو چارو وزارت سرپرست، د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت پناه غوښتونکو مرستیال، د کورنیو او دفاع وزارتونو استازو څخه ستاینه کول؛
- ایران هیواد ته د کډوالو مهمو موضوع ګانو بحث په موخه د یو پلاوي په مشرۍ د بهرنیو چارو وزارت سرپرست سفر په اړه معلومات وړاندې کول؛
- د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون څخه بایو متریک لړۍ کې د راغلې پرمختیا په اړه مننه او په دې اړوند کمیسیون سره د مرستې په موخه وزارتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل؛
- د جینوا کنفرانس تدویر لپاره د لازمو تدبیرونو نیولو چمتوالۍ او په بنسټیزو مواردو بانډې د لا تمرکز او رهبري منظمو غونډو جوړونې په موخه د کابینې غړو او والیانو ته دنده سپارل؛
- غونډې ته د امریکایي کارپوهانو سره ،چې د کرونا ویروس او اړوند ناروغیو څیړنه کوي د خبرو په اړه معلومات وړاندې کول او د واکسین تولید او ویش وخت نیولو، په عمومي ځایونو او کورونو کې په جبري توګه ماسک کارولو، راتلونکي شپږو میاشتو کې د کرونا ازمویني بیې راښکته کیدلو او د اکسیجن جوړولو اړتیا د مهمو ټکو څرګندول؛
- د خوست والي ښاغلي محمد حلیم فدایي سره د پلار مړینې له امله د غمرازۍ ښکاره کول؛

**د اجندا لومړی موضوع:** د کرونا ویروس (کووید - ۱۹) په بهیر او له هغه وروسته په هوایي ډګرونو کې د ملکي هوایي چلند عملیاتو تنظیم لارښود او د کرونا ویروس (کووید - ۱۹) په بهیر او له هغه وروسته د کورنۍ او بهرنۍ الوتنو پیل لارښود؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د اقتصادي پراختیا، سوداګریزو او بیوزلي کمولو په چارو کې د ولسمشر ځانګړی استازی او ښاغلی د ملکي هوایي چلند د پالیسي مرستیال؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱ | د کرونا ویروس (کووید - ۱۹) په بهیر کې او له هغه وروسته په هوایي ډګرونو کې د ملکي هوایي چلند عملیاتو تنظیم لارښود او د کرونا ویروس (کووید - ۱۹) په بهیر او له هغه وروسته د کورنۍ او بهرنۍ الوتنو پیل لارښود په اصولو کې تصویب ده؛ | یوه اوونۍ |

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| | د ملکي هوايي چلند ادارې ته دنده سپارل کيږي، چې د اقتصادي پراختيا، سوداګريزو او بيوزلي کموالي په چارو کې د ولسمشر ځانګړی استازي تر نظر لاندې د تدبيرونو نيولو له استثنا پرته په هوايي ډګرونو او په ځانګړي توګه د حامد کرزي نړيوال هوايي ډګر کې د روغتيايي کتنې، د عامې روغتيا وزارت له ظرفيتونو ګټې اخيستنې ځرنګوالي او د ملکي هوايي چلند شته ظرفيتونو سره د لارښودونو پلي کيدو ځرنګوالي ته په کتو بيا ځلې کتنه ترسره، د عمل پلان يې چمتو او د جمهوري رياست لومړي مرستيال له تائيد وروسته د طرحې پلي کيدو او ترسره کيدو اړخونو تمرکز په موخه طرحه نهايي کړي. | |

**د اجنډا دويمه موضوع:** د کرونا ويروس (کوويډ ۱۹) خپريدو مخنيوي په موخه د روغتيايي لارښودونو پام کې نيولو او د هيواد اقتصادي مسايلو ته په کتو د ښاري او ولايتي مسافر وړونکو ټرانسپورټ خدمتونو وړاندې کولو طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د اقتصادي پراختيا، سوداګريزو او بيوزلي کمولو په چارو کې د ولسمشر ځانګړی استازی او ښاغلی د ټرانسپورټ سرپرست وزير؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۲ | د کرونا ويروس (کوويډ ۱۹) خپريدو مخنيوي په موخه د روغتيايي لارښودونو پام کې نيولو او د هيواد اقتصادي مسايلو ته په کتو د ښاري او ولايتي مسافر وړونکو ټرانسپورټ خدمتونو وړاندې کولو طرحه په اصولو کې تصويب ده؛<br>د ټرانسپورټ وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د اقتصادي پراختيا، سوداګريزو او بيوزلي کموالي په چارو کې د ولسمشر ځانګړي استازي تر نظر لاندې د اړونده وزارتونو او ادارو په ګډون کميټه کې د مسافر وړونکو بسونو کې د ماسک کاروني او ويش ځرنګوالي، د بسونو په دننه کې د ايرکنډيشنونو او هوا باسلو وسايلو فعالولو، د ګمې ګوڼې را کمولو او مسافر وړونکو تم ځايونو کې د ټولنيز واټن پام کې نيولو، په مهمو تم ځايونو او لويو لارو کې د روغتيايي اسانتياو رامنځته کولو او د لويو لارو په رستورانتونو کې د روغتيايي لارښودونو پام کې نيولو ته په کتو سره طرحې بيا ځلې کتنه ترسره، د عمل پلان يې جوړ او د جمهوري رياست لومړي مرستيال له تائيد وروسته د طرحې په پلي کيدو او ترسره کيدو اړخونو تمرکز په موخه طرحه نهايي کړي. | يوه اوونۍ |

**د اجنډا دريمه موضوع:** د هيواد د نورو واليانو په استازيتوب د خوست والي خبرې او وړانديزونه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د خوست والي؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۳-۱ | د عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د هيواد دوديزې درملنې ودې او ملاتړ ځرنګوالي په اړه د اړونده جواز، علمي او قانوني واک لرونکو کسانو سره په سلا د کره وړانديزونو سره يو ځای د روغتيايي او علمي معيارونو پام کې نيولو سره هر اړخيزه طرحه جوړه او د کابينې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | دوه مياشتې |
| ۳-۲ | د عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې په عامه او خصوصي سکتور کې د اړونده تقنيني سندونو ته په کتو سره د ډکترانو دندې ترسره کولو روښانه ميکانيزم جوړ او د کابينې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | يوه مياشت |
| ۳-۳ | د لوړو زده کړو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو عملي کادر غړو څخه د اغيزمنې ګټې اخيستنې په موخه د اړونده تقنيني سندونو او علمي معيارونو ته په کتو سره د درسي ساعتونو او مکلفيتونو ځرنګوالي په اړه يو روښانه ميکانيزم جوړ او د کابينې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | درې اوونۍ |
| ۳-٤ | لوړو زده کړو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د ترون په بنسټ د دولتي بنسټونو د سروي ګانو، څيړنو او پرمختيايي برنامو کې د علمي کادر له وړتياو څخه د ګټې اخيستې په موخه يو هر اړخيز ميکانيزم جوړ او د کابينې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | درې اوونۍ |
| ۳-٥ | لوړو زده کړو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د هغه علمي کادر پر ځای، چې ماسټري او دوکتورا دورې پوره کولو لپاره بهر ته ځي؛ دشته علمي کادرونو او له اکاډميک بست نه بهر استاد څخه د اړونده تقنيني سندونو په پام کې نيولو سره د ګټې اخيستنې لپاره يو ميکانيزم جوړ او د کابينې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | درې اوونۍ |

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۳-۶ | عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې ا.ا.ج کابینې ۱۳۹۹/۱/۲۸ نېټې (۴) ګڼې مصوبې سره سم د لوړو زده کړو، مالیې وزارتونو او د لوړو زده کړو په چارو کې د ولسمشر ـ ستر سلاکار په مرسته د هیواد د پوهنتونونو مالي خپلواکي مقررې تعدیل طرحه چمتو او د کابینې وروستیو غونډو ته دې وړاندې کړي. | دوه اونۍ |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** د هنګ کرلو، صنعت او صادراتو ملي پانګه اچونې طرحه او طرحې پلي کیدو په اړه د اړونده بنسټونو او هنګ کنسرتیوم ترمنځ پوهاوي لیک؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د کرنې، اوبو لګولو او مالداري وزیر؛

**موخه :** د افغانستان وچې سیمې د قومونو ، محلي ټولنو د شریکو پر بنسټ تر کنټ لاندې راوستل، د کار برابرولو لپاره د خصوصي سکتور او حکومت څخه ملاتړ کول ، خوړو امنیت ، اقتصادی تل پاتې پر مختیا ، د چاپیریال ساتنې له خطرونو څخه لکه سیلابونو، دښتو پراختیا مخنیوی او د اقلیمي بدلونونو کموالی.

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۴ | د هنګ کرلو، صنعت او صادراتو ملي پانګه اچونې طرحه او د طرحې پلي کیدو په اړه د اړونده بنسټونو او هنګ کنسرتیوم ترمنځ پوهاوي لیک په اصولو کې تصویب ده؛<br>د کرنې، اوبو لګولو او مالداري وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې یاده طرحه د درې اونیو په اوږده کې د جمهوري ریاست لوړ مقام حقوقي سلاکار، د ملي تدارکاتو اداري رئیس، د سوداګرۍ او صنعت وزارت استازي او د کابل پوهنتون فارمیسي- پوهنځي د طبي نباتاتو څانګې او نورو اړونده بنسټونو په ګډون د اقتصادي پراختیا، سوداګریزو او بیوزلي کموالي په چارو کې د ولسمشر- ځانګړې استازي تر نظر لاندې د ارزښت ځنځیر په مشخصولو،په عمل کې د طرحې په پلي کیدو څرنګوالي ډیر تمرکز، د څېړنې ډول روښانتیا، د مدیریت او مشارکت ډول، د حقوقي او اقتصادي پلوه د کره شمیر شننه او ماډل اړخونو،د پانګې اچونې ډول او په تفصیلي ډول د قرارداد تفصیلي څیړنو ته په کتو سره بیا ځلې کتنه ترسره او نهایي کیدو په موخه دې اقتصادي عالي شورا ته وړاندې کړي. | درې اونۍ |

**د اجنډا پنځمه موضوع:** د افغان تاجک د حوزې د دوو بلاکونو لومړنۍ موندنو (اکتشاف) دورې مودې غځونې قرارداد ؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د کانونو او پټرولیم مسلکي مرستیال؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۵ | د افغان تاجک د حوزې د دوو بلاکونو لومړنۍ موندنو (اکتشاف) دورې مودې غځونې قرارداد تصویب ده؛ د کانونو او پټرولیم وزارت دې په اړه کړنې تر سره کړي. | - |

**د اجنډا شپږمه موضوع:** د آمو سیند حوزې د درې بلاکه موندنو او د تولید ویش قرارداد فسخ،دکانونو او پټرولیم وزارت ته تر قرارداد لاندې سیمو سپارل او د یادو سیمو بیا ځلې دواطلبي ته سپارل؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د کانونو او پټرولیم مسلکي مرستیال؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ٦ | د آمو سیند حوزې د درې بلاکه موندنو او د تولید ویش قرارداد فسخ،دکانونو او پټرولیم وزارت ته تر قرارداد لاندې سیمو سپارل او د یادو سیمو بیا ځلې دواطلبي ته سپارل تصویب ده؛ د کانونو او پټرولیم وزارت دې په اړه کړنې تر سره کړي. | - |

**اوومه موضوع:** بیلابیلې پریکړې:

| | د کابینې پریکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۷-۱ | کورنیو چارو وزارت ته دنده سپارل کیږي چې د جوماتونو او علمای کرامو، مهمو مذهبي شخصیتونو او د سولې خبرو اترو ډلې امنیت ټینګښت دې په خپل کاري لومړیتوبونو کې ونیسي. | - |
| ۷-۲ | د ملي امنیت شورا دفتر ته د کورنیو چارو وزارت په مرسته دنده سپارل کیږي، چې د ملي پولیسو ناروغانو ته د نه رسیدنې په هکله راغلي شکایتونه وڅیړي او له منځه وړلو په اړه یې چټک ګامونه واخلي. | عاجل |

| | د کابینې پریکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۳-۷ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د اکسیجن تولید په خپل کاري لومړیتوبونو کې ونیسي او د نړیوالو ټولنو مرستو راجلبولو په موخه دې هر اړخیزه طرحه چمتو او د حکومت رهبری غونډې ته دې وړاندې کړي. | عاجل |
| ٤-۷ | د جمهوري ریاست د چارو ادارې لوی ریاست ته دنده سپارل کیږي، چې هرو دوو اوونیو کې یو ځل د کابینې مصوبو پلي کیدو په ځانګړې توګه د ولایتونو د ستونزو اړوند څرنګوالي راپور د ا. ا. ج کابینې غونډې ته وړاندې کړي او وزارتونه او دولتي اداري دې د ټاکل شوي مودې سره سم د راپور ګړندیتوب په موخه مرسته او ګامونه واخلي. | دوه اوونۍ |
| ٥-۷ | وزارتونه او دولتي ادارو ته په کلکه دنده سپارل کیږي چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون سره د ملکي خدمتونو کارکوونکو د بایو متریک لړۍ ګړندیتوب په موخه هر اړخیزه مرسته وکړي. | - |
| ٦-۷ | اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل کیږي، چې د هغه شمیر ولایتي مسؤلینو راپور، چې په ټولیز ډول استعفاء ورکوي، وڅیړي او د حکومت رهبری غونډې ته دې راپور وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۷-۷ | مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي چې د ا.ا.ج کابینې تیرو پریکړو سره سم د هغو پرمختیایي پروژو په بودجې، چې پرمختګ نه لري یا د پلي کیدو وړ نه وي، بیا کتنه وکړي او پیسې دې نورو پروژو ته تعدیل کړي. | یوه میاشت |
| ۸-۷ | وزارتونه او دولتي ادارو ته دنده سپارل کیږي چې د جینوا کنفرانس جوړیدو لپاره دې لازم چمتوالی ونیسي او د مالیې وزارت سره دې هر اړخیزه مرسته وکړي. | یوه نیمه اوونۍ |
| ۹-۷ | امنیتي ارګانونو ته دنده سپارل کیږي، چې د هیواد هوایي ډګرونو د ښه امنیت ټینګښت او وقایوي تدبیرونو نیولو په موخه دې خپل غیر ضروري دفترونه په هوایي ډګرونو کې په ځانګړې توګه د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر کې وتړي او هوایي ډګر انګړ ته دې د بې ځایه تګ راتګ په موخه د اړونده منسوبینو مخنیوي وکړي. | دوه اوونۍ |
| ۱۰-۷ | والیانو ته دنده سپارل کیږي، چې د مرستو کڅوړې (ملي دستر خوان) جوړیدو په موخه د اړونده ولایت پیداوار، ضرورتونه او اړتیاوې په پام کې نیولو سره خپلې وړاندیز شوې کڅوړې د جمهوري ریاست لومړي مرستیال دفتر ریاست ته استوي. | عاجل |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري ریاست چارو ادارې لوی ریاست د کابینې چارو سمون ریاست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**